# د افغانستان د بیارغاوني لپاره کارپوهان

د افغانستان په وزارتونو او اداری سیستمونو کې په وروستېو کلونو کې د پام وړ پرمختګ رامنځ ته شویدی. اوسمهال، د افغانستان اداري په تدریجی ډول سره د بیارغونې او د پوهنتونو د همغږی چارې په خپله مدیریت کوي.

## وضعیت

سره لدې، د رنو او اغیزمنو اداري جوړښتونو پرمختګ هیواد لپاره اوس هم یوه ستره ننګونه پاتې شویده، ځکه چې ډیرو مجربو افرادو خپل کورونه پریښي ترڅو له جګړې او سیاسی ناکراری څخه وتښتي. د مغزو دا ډول ستره خلا پدې معنې دي چې دا هیواد په کلیدي برخو کې متخصصین او یا کار پوهان نلري. په لوړه کچه وړ افغان کارپوهانو ته د هیواد د باثباته کولو لپاره په بیړني ډول سره اړتیا لیدل کیږي.

## موخه

د افغانستان دولتی ارګانونه د دې وړتیا لري چې په راتلونکي او اغیزمنه توګه فعالیت وکړي. د افغانستان اداري مهمې دولتي چوپړتیاوې وړاندې کوي، او پدې ډول سره د دولت د منلو کچه لوړوي. وزارتونه او دولتي دفترونه په خپلواکه توګه د پرمختګ د اقداماتو د پیل او مدیریت او د تمویلونکو د فعالیتونو د همغږی لپاره ملاتړ تر لاسه کوي، او پدې ډول سره د افغانستان په باثباته کولو کې ونډه اخلي. کوم پرمختګونه چې په چټکۍ سره احساس کیږي، که چیرې شوني وي، تعقیبوی یې.

## اقدامونه او پایلې

د آلمان دولت د افغانستان د ادارو په نفوذ لرونکو پوستونو کې د مجربو کسانو د ځاې پر ځاې کولو په واسطه او یا په مرسته د افغانستان د ادارو مهارتونه اصلاح کوي. د هغوې اداری جوړښتونه، او پدې ډول سره د هیواد اقتصادي او ټولنیز پرمختګ پیاوړی کوي.

### راستنیدونکي او مدغم شویکارپوهان پوهه پیاوړی کوي

دغه پروګرام د کارپوهانو په دوه ډلو تمرکز کوي: مدغم شوی کارپوهان او راستنیدونکي کارپوهان

## په یو نظر کې



**پروګرام:** په ملي او د ولایت او ولسوالیو په کچه د افغانستان د وزارتونو او اداری سیستمونو د پرمختګ ملاتړ

**دستور ورکوونکي اداره:** د آلمان فدرالي حکومت د بهرنیو چارو وزارت

**شریک:** د افغانستان وزارتونه او دولتی نهادونه

**پلی کونکي اداره:** Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH

**Provinces:** بلخ
,
**Provinces:** هرات
,
**Provinces:** کابل
,
**Provinces:** کندهار
,
**Provinces:** خوست
,
**Provinces:** ننګرهار
,
**Provinces:** پکتیا
,
**Provinces:** سمنګان

**د پروګرام موخه:** د هیواد د باثباته کولو په موخه د اغیزمنو او رڼو ارګانونو تاسیس کول

راستنیدونکي کارپوهان هغه افغانان دي چې په جرمني یا د اروپا په کوم بل ځای کې یې زده کړې یا مسلکي کاري تجربه ترلاسه کړیوي، او اوس هیله لري چې بیرته خپل هیواد ته راستانه شي. Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH دغه روزل شوي کارپوهان په وزارتونو، دولتی ادارو او پوهنتونونو کې ځای پر ځای کوي، چېرې چې هغوی پرمختیایي کلیدي پوستونه نیسي. د استعدادونو د بیرته ستنیدو دغه تګلاره تضمینوي چې د بهرني مهاجرت له لیارې ځنې له لاسه وتلي کارپوهان بیرته افغانستان ته راوګرځي یا را ستانه شی. د دې سربېره، راستنېدونکي افغان کارپوهان خپله پوهه خپلو همکارانو ته لېږدوي، او پدې ډول سره تضمینوي چې پوهه په پایښت لرونکي ډول سره دولتي دفترونو او پوهنتونونو ته لیږدول کیږي. دغه 'پول جوړونکي' همدارز د افغانستان، جرمني او نړېوالو شریکانو ترمنځ خبري اترې پیاوړې کوي.

GIZ د راستنېدونکو کارپوهانو ستري مشورتي چوپړتیاوي او د شبکې جوړونې پراخ فرصتونه وړاندې کوي، او تر درېو کالو مودې پورې د هغو سیمه ایزه تنخواه لوړوي.

د بیلګې په توګه، یوه بهرنی روزل شوی کارپوه، چې اوسمهال افغانستان ته ستنه شویده، د دولت اجرائیوي رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله ته د جندر د مساواتو او سیاست په اړه مشوره ورکوي. افغانستان کې د میرمنو د حقونو د پیاوړي کولو لپاره، هغې یوه اجرائیوي کمیټه جوړه کړېده، چې د میرمنو د لیوالتیاو د پرمختګ مفکورو ته پراختیا ورکوي، او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضیې تعقیب او د هغو په اړه راپور وړاندې کوي. د دې سربېره، ستنیدونکې کارپوه د لیوالتیا لرونکې یوه دله پیدا کړله ترڅو د سولې په پروسه کې د میرمنو رول پیاوړی کړي. دغه دله د بحث لپاره یو دریځ وړاندې کوي چې د افغانستان د مدني ټولنو د میرمنو لخوا کارول کیدلې شي.

مدغم شوی کارپوهان د اروپا د کار له مارکیټ څخه په لوړه کچه وړ کارپوهان او مدیران دي چې افغانستان کې په دندو ګمارل شویدي. GIZ هغوی د نړېوال مهاجرت او پراختیا د مرکز (CIM) سره په اړیکه کې، له افغان ګمارونکو څخه د ترلاسه شوي غوښتنې په ځواب ځای پر ځای کوي. دغه بهرني کارپوهان په نفوذ لرونکو پوستونو کې په ټاکل شوو ادارو کې کار کوي، چېرې چې هغوی د اداري او مدیریتي ظرفیتونو په پراختیا کې مرسته کوي. هغوی د ځایي شریکانو لخوا د ځایي قرارداد پر بنسټ په دندو ګمارل کیږي، او د خپلې تنخوا ډیریدل له GIZ څخه ترلاسه کوي.

یوه مدغم شوی کارپوه، د بیلګې په توګه د افغانستان د بهرنیو چارو په وزارت کې د ډیپلوماتیکي اداري مشري پر غاړه لري. د هغې په رول کې، هغې له نړېوالو معیارونو سره سم د راتلونکو ډیپلوماتانو د ټاکلو لپاره کاري پروسه اصلاح کړېده او د کاندیدانو په ټاکلو کې روڼوالي ډاډمنوي. د دې سربېره، هغې د نړېوالو اړیکو او سیاسي علومو

**Overall term**: مرغومي ۱۳۸۸ – مرغومي ۱۳۹۹

## اضافي معلومات

- State-Building in a Fragile Environment (EN) (https://www.ez-afghanistan.de/ps/content/state-building-fragile-environment-en)
- Experts for the Reconstruction of Afghanistan (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/FS_2019_Integrated_Experts_PA.pdf)

## اړیکه

جوشا اولګیمولر GIZ GmbH د پروګرام مدیر، "د افغانستان د وزارتونو او اداري سیستمونو د پراختیا ملاتړ"
joscha.oelgemoeller@giz.de

په برخه کې د لیسانس په کچه کورس رامنځ ته کړی دی چې د ډیپلوماتیکې روزنې
لپاره یو مهم بنسټ وړاندې کوي. د ډیپلوماتیکې چوپړتیا شاوخوا ۹۰۰ غړو له دغو
اصلاح شوو چوپړتیاو او د اړونده ادارې د زده کړې او روزنې له لارې څخه ګټه پورته
کړېده.

**یوې راتلونکې سره ستنېدل – کلیدي پوستونو کې په دندو ګمارېدل**

د ډېرو ستنیدونکو کارپوهانو لپاره، دغه پروګرام له دولتي ګمارونکي سره د یوې
مسلکي دندې د پیلولو فرصت وړاندې کوي. د هغو له ګمارل کیدو څخه وروسته، ډېر
کارپوهان په ځنو برخو کې لکه ښې حکومتولۍ، امنیت، داخلي او بهرنۍ پالیسۍ،
سوداګرۍ او اقتصاد، ترانسپورت، زده کړې، لوړو زده کړو، او کلتور او رسنۍ کې د
کلیدي پوستونو تر لاسه کولو ته ادامه ورکوي. د پروګرام له ځنو ګډون کونکو څخه په
افغانستان کې د مهمو ښارونو او سیمو ښاروالان جوړ شویدي، پداسې حال کې چې
ځنې نور یې په دولتي ادارو او پوهنتونونو کې د څانګو مشري کوي، او یا له هیواد
څخه بهر د سفیرانو په توګه د خپل هیواد استازیتوب کوي. دغه پروژه پدې ډول سره
افغان کارپوهانو ته فرصت ورکوي ترڅو د خپل هیواد په پرمختګ کې د پام وړ ونډه
واخلي.